د ښښونکي او توانا خدای په نامه

# دافغانستان د مدني ټولنو او بشري حقونو بنسټونو اعلامیه

## د۱۳۹۰کال د مرغومي ۸مه د ۲۰۱۱کال د دسمبر۲۹ مه

## کابل- افغانستان

د افغانستان د مدني ټولنې بنسټونو د ۱۳۹۰یم لمریزکال د مرغومي په شپږمه نېټه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د درې تنو کمیشنرانو له دندو نه د ګوښه کیدو په اړه له ولسمشر ښاغلي حامد کرزي سره د جمهوري ریاست په ارګ کې په مشورتي غونډه کې ګډون وکړ .

له بده مرغه د هیواد له ولسمشر سره د افغانستان د مدني ټولنې بنسټونود ناستې ګزارش د حکومت د رسنیو او اطلاعاتو د مرکز په خبري سایټ کې په داسې بڼه خپور شو چې ګنې د مدنی ټولنو بنسټونه غواړي د بشري حقونو د کمیسیون ټول نهه واړه کمیشنران له خپلو دندو لیرې کړای شي . دافغانستان د مدني ټولنو او بشري حقونو بنسټونه په داسې حال کې چې د بشري حقونو د کمیسیون هڅې ستایي او ملاتړ یې کوي ، د حکومت د رسنیو او اطلاعاتو له مرکز نه په جدي توګه غواړي ، چې نوموړی خبر تصحیح کړي ، ځکه چې دا خبر سم نه دی او هیڅډول منطقي نه دی . د هیواد د مدني ټولنو بنسټونه په دې ښه پوهیږي چې د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د متخصصو او فعالو غړیو ګوښه کیدل ددغه کمیسیون په معلوماتي او اطلاعاتي ارشیف کې سستوالي رامنځته کوي . د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په اوسنیو شرایطو کې له خاص ارزښت نه برخمن دی او د کادرنو په نوې ټاکنه کې اندیښنه داده چې حالات به د نامسوولو او په بشري حقونو ناباوره او غیر متخصصو کسانو په لاس ور شي او د بشري حقونو سرغړونکو ته به د لاسوهنې او پښو ایښودو ځای پیداشي .

دا اندیښنې هغه وخت لا ډیریږي چې د هیواد اوسنیو حساسو اداري ، سیاسي او پوځي حالاتو او دمعافیت فرهنګ ، د ظلم او بې عدالتۍ دوام ته پام وکړو .له دې امله د مدني ټولنو او بشري حقونو بنسټونه د مدني ټولنو او بشرحقونو د شبکې د مرغومي د دریمې نیټې د اعلامیې په تعقیب او د بن په کنفرانس کې د حکومت ژمنو او د د ۱۹۹۳ کال د دسمبر په شلمه په پاریس کې د ملګرو ملتو د پریکړه لیک په رعایتولو لاندیني موارد وړاندیزوي :

۱: د پاریس د اصولنامې په اساس د بشري حقونو د ملي کمیسیونونو د کمشرانو او ځای ناستو ټاکنه له مدني ټولنو او ملي شورا سره د سلا مشورې د یوه شفاف او سراسري ملي بهیر په ترڅ کې پشبیني شوې ده . دغه راز د ا مسله د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د تشکیل د قانون او وظایفو په مصوبه کې هم صراحت لري ، د افغانستان د مدني ټولنو بنسټونه له حکومت نه غواړي چې ددغه کمیسون د کمشنرانو د ځای ناستو په ټاکنه کې د پاریس په اصولنامه کې مطرح شوی مواد او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د و ظایفو د تشکیل قانون او صلاحیتونه رعایت کړي .
د پاریس اصولنامې د ملي بشري بنسټونو د غړیو د ټاکنې لپاره چې دغه دندې ته کاندیږي په څرګند ډول معیارونه ښوولي چې له دې جملې د بشري حقونو په ارزښتونو او اصولو باورلرل ، په دغه ارزښتونو کې تخصص او پیژندنه درلودل ، فکري خپلواکي ، له ګوندونواو سیاسي جریانونو سره د اړیکو نه لرل په ټولنه کې د ښه شهرت لرل یې مهم معیارونه دي .

۲:د افغانستان د بشري حقونو او مدني ټولنو بنسټونه په جدي ډول د کميسيون د راتلونکې خپلواکۍ او ترکيب په اړه انديښمن دي دا انديښنې په خاص ډول هغه وخت ډېرېږي چې د مخکينيومسوولينو په ځای نوي کسان ټاکل کيږي . که داسې وي چې حکومت د مصلحت او د مدني ټولنو او بشري حقونو له بنسټونو سره تر يوې ملي شفافې مشورې پرته د کميسيون

کمشنران ټاکي ، دا کار د افغانستان له اساسي قانون ، نړۍ والو قراردادونو او په تيره له هغه تعهداتو سره په ټکر کې دی چې دافغانستان حکومت د بن په وروستي کنفرانس کې منلي دي.

۳: اوسني حساس امنيتي حالت او ننګونو ته په کتو چې د مدني ټولنو او بشري حقونو فعالان په کې له جدي امنيتي ننګونو سره مخامخ دي د بشري حقونو د کميسيون کمشنران هم د خپل فعاليت له امله ترتهديد لاندې دي ، حکومت جداً ددوی د مصونيت او فردي امنيت ضامن دی .

۴: دغه ټکو ته په پام چې زموږ هيواد څو لسيزې جنګ ، بې عدالتي او د بشري حقونو په نقض کې تيرې کړي ، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د بشري حقونو د ناقضينو او مخنيوي په اړه مهم اسناد په واک کې لري ، په داسې وخت کې د بشري حقونو په کميسيون کې د بشری حقونو د ارزښتونو او عدالت په اړه د بې باوره کسانو ټاکنه کولی شي دننه په کميسيون کې او په تيره ددغه حقوقو د قربانيانو لپاره انديښنې اوستونزې رامنځته کړي .

۵: په بن کې د ۲۰۱۱م کال د ديسمبر د پنځمې نيټې د کنفرانس د پريکړه ليک مطابق ، د افغانستان حکومت بايد د ديمکراتيکو پروسو او بنسټونو له دې ډلې د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د پياوړتيا ، د ښې حکومتدارۍ او د قانون حاکميت چارې پياوړې او ځرګندې هڅې نندارې ته وړاندې کړي ، چې نه يوازې دافغانستان خلک بلکې نړۍ واله ټولنه هم په دې باوري کړي چې افغانستان نور د يوې ډاډمنې او مصونې راتلونکې په لور روان دی .

**په افغانستان کې د بشري حقونو او د قانون د حاکميت په هيله**